PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او مؤمنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وایي: مونږ بلــنــه واورېده، او ومو مله، او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول مننه وکړي او له الله نه وډار شـي او لـه سرغړونې څخه یې ځان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:

څوک چې د خلکو ترمنځ د روغې جوړې کارونه کوي نو الله تعالی دهغه هر کار جوړوي او دهغه د هرې خبرې په بدل کې ورته د یو غلام د آزادولو ثواب ورکوي او مخکیني ګناهونه یې بخښي. (ترغیب)

شهادت   دریم کال، ۳۵ مه ګڼه، پرله پسې ۱۳۵ مه ګڼه   چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د لیندۍ ۹ مه   د۱۴۳۲ هـ ق د محرم ۴ مه   د۲۰۱۱ م د نوامبر ۳۰ مه

کمک ها و تعهدات بین المللی پس از ۲۰۱۴ در صدر آجندای کنفرانس بُن دوم

کابل، رسانه ها:
حضرت عمر زاخیل وال وزیر مالیه افغانستان به روز دوشنبه گفت: کمک های جامعه بین المللی و تعهدات سیاسی در صدر آجندای کنفرانس بن که هفته آینده برگزار می شود، قرار خواهد داشت.

خبرگزاری دی پی آی آلمان گفته که جامعه بین المللی، پیش از سال ۲۰۱۴ میلادی که جدول زمانی برای خروج مکمل نیرو های خارجی از افغانستان تعیین شده، برای حمایت و کمک به این کشور تعهد سپرده است.

وزیر مالیه افغانستان می گوید:
"ما تا پایان سال ۲۰۱۴ میلادی از ناحیه کمک های جامعه بین المللی نگرانی نداریم اما پس از ۲۰۱۴ به تعهد قوی و واضح سیاسی نیاز داریم."

بقیه در صفحه ۴

هند او کاناډا د حاجي ګک کان په داوطلبۍ کې ګټونکي شول

کابل، رسنۍ:
له دریو هندي کمپنیو څخه جوړ کنسورشیم او یوې کاناډایي کمپنۍ د حاجي ګک د اوسپنې د کان د استخراج په داوطلبۍ کې ګټونکې اعلان شول.

د هند د پولادو د دولتي شرکت (SAIL) په مشرۍ د څو کمپنیو کنسورشیم یا د شرکتونو ائتلاف، چې پرون د حاجي ګک په څلورو برخو کې د درو د استخراجولو د امتیاز ګټونکي اعلان شو، ممکن د حاجي ګک د کان د اوسپنې د استخراجولو لپاره د اوسپنې د ویلي کولو د فابریکې او د اورګاډي د پټلۍ پر جوړولو تر شپږ ملیارد ډالرو پورې پانګونه وکړي.

پاتې ۴ مخ

افغانان له رواني ناروغیو سره لاس او ګریوان دی

دریم مخ

از آدرس طالبان در کنفرانس بُن کسی حضور نخواهد داشت

طالبان در این کنفرانس شرکت نه کنند:

کابل، رسانه ها:
وزارت خارجه افغانستان می گوید، به پیش شرط های حکومت این کشور در مورد شرکت طالبان در نشست بن، توجه نشده است.

جانان موسی زی سخنگوی وزارت خارجه افغانستان به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت، عدم توجه به شروط حکومت افغانستان که زمینه شرکت طالبان را در نشست بن فراهم می ساخت، سبب شد، تا

بقیه در صفحه ۴

د امنیتي چارو د لېږد دوهم پړاو د بن تر کنفرانس مخکې پیلیږي "رحیم وردک"

ملي امنیت د شورا د پرېکړې پراساس له بهرنیو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د

کابل، رسنۍ:
وروسته له هغې چې د رواني اوونۍ په سر کې د هیواد ملي امنیت شورا د هغو ولایتونو، مرکزونو او ولسوالیو نوملړ اعلان کړ، چې په دوهم پړاو کې به یې امنیتي چارې له بهرنیو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته سپارل کیږي، د ملي دفاع وزارت بیا د دوهم پړاو د لیږد له ډېر ژر پیلېدا څخه خبر ورکوي.

د ملي دفاع وزیر سترجنرال عبدالرحیم وردګ، چې نن /د سې شنبې په ورځ/ د ولسي جرګې د دفاعي او خمکنی بشپړتیا کمیسیون ته ورغوښتل شوی و، وویل چې د

پاتې ۴ مخ

سنډې ټیلګراف: ناټو دکال ۱.۲ میلونه ډالر طالب جنګیالیو ته ورکړې دي

روهي ویب:
نږدې ۲.۷ زره طالب جنګیالیو د درې میاشتو په اوږدو کې دسوله ییز ژوند په پروګرام کې، چې په افغانستان کې دناټو له لورې پیل شوې و، خپل نومونه ثبت کړي دي.

هر طالب جنګیالي دمیاشتې نږدې ۱۵۰ ډالر دمیاشتني معاش په توګه له دې پروګرام څخه تر لاسه کړي دي دا معلومات سنډې ټیلګراف ورخپاڼې په افغانستان کې دناټو دچارواکو دخرګندونو پر بنسټ خپاره کړې دي په بله مانا ناټو نږدې ۲.۱ میلونه ډالر پردې پروژه لګولي دي. دا پروګرام انګلستان وړاندیز کړې و، چې وروسته بیا دناټو غړو هېوادو هم ومانه.

هر څوک، چې دطالبانو له ډلې راجلا کیږي او سوله ییز ژوند ته راګرځي ددې پروګرام له مخې به دمیاشتې ۱۵۰ ډالر تر لاسه کوي او ترځنګ به یې له هر ډول سزا او څار څخه ژغورل کیږي که څه پخوا دترهګرۍ او وژنې په پېښو کې ښکیل پیژندل شوې وي.

په ورته وخت کې ددریو میاشتو لپاره دې طالب جنګیالي ته یو درې میاشتني کورس له لارې دښنتېزو ارزښتونو او له نورو سره دچلند په اړه معلومات ورکول کیږي او له کورس وروسته به دا لوړه کوي، چې نور له طالبانو سره هیڅ اړیکې نه نیسم دافغانستان اساسي قانون څخه به سرغړونه نه کوم له زور زیاتي به دتل لپاره لاس اخلم دهمدې رونیز پروګرام له لارې دا هم ور زده کیږي، چې داسلام دین زورزیاتې نه خوښوي.

د۲.۷ زره کسانو څخه، چې په دې پروګرام کې یې ونډه اخستې ده ۸۰۰ یې داسې په نښه شوي دي، چې له طالبانو سره پریکون اعلانوي. دهمدې پروګرام دپایلې په اړه برتانوي ډګروال ډیویډ هبک وایي: په دې پروګرام کې ۲.۷ زرو کسانو خپل نومونه ثبت کړي او یوازې ۵ یې بیرته خپل وسله وال فعالیت ته ورګرځېدلي دي. د

پاتې ۴ مخ

حقاني شبکې، د جګړو یو نوی تاکتیک پیل کړی

آزادي راډیو:
پوخي استخباراتي چارواکي وایي، حقاني شبکې د خلکو د وژلو لپاره یو شمېر ډلې جوړې کړې او تر ټولو ستره ډله یې د خراسان په نامه مشهوره ده چې د پاکستان په قبایلي سیمو کې فعالیت کوي.

دې ډلې تر اوسه لږ تر لږه ۲۵۰ کسان ترور اویا هم په عام محضر کې اعدام کړي دي.

د دغې شبکې بله ډله چې کوم خاص نوم نه لري، په خوست ولایت کې فعاله ده او

پاتې ۴ مخ

پاکستان د بُن په کنفرانس کې د نه ګډون پرېکړه وکړه

اسلام اباد، پژواک:
د پاکستان د وزیرانو شورا د لیندۍ په اتمه پرېکړه وکړه، چې پر مومندو ایجنسۍ د ایساف د برید په غبرګون به د افغانستان په اړه دبن په کنفرانس کې ګډون نه کوي.دغه پرېکړه وروسته له هغه وشوه، چې د روانې اونۍ په پیل (دلیندۍ په پنځمه) په افغانستان کې د مېشتو ایساف ځواکونو دوو چورلکو د افغانستان او پاکستان پر ګډه پوله د مومندو ایجنسۍ په سیمه کې پر دوو پاکستانیو پوستو برید وکړ، ۲۴ پاکستاني سرتېري یې ووژل

پاتې ۴ مخ

دوکتور محمد انور

کنفرانس بُن دوم؟! از نظر مشترکین کنفرانس بُن اول

هر چند کنفرانس بُن دوم در انحصار حکومت آقای کرزی از آن اعتباری برخوردار نیست که بتواند به تنهایی در رابطه با حل مشکلات آینده افغانستان راهی را در پیش گیرد، زیرا کنفرانسی که طرف قناعت همهء جوانب ذیدخل نباشد خواه این جوانب سیاسی باشد یا نظامی عدم همکاری آنها قضیه را بغرنج تر میسازد. و دولتی که حداقل با مصرف ۷ بلیون دالر میتواند فقط امنیت نسبی غیر مطمئن خود و وابسطه گان قابض بر نظام را تأمین کند و بخاطر بدست آوردن این بودجه گاهی با ابرقدرتی و زمانی با کشورهای منطقه در معامله اُفتد و برای دوام و انحصار بر قدرت در برابر رقبای نظامی و سیاسی خود بی اعتناء بماند و نتواند پای آنها را در یک کنفرانس هم بکشاند، هم نظام و هم مردم ما در آیندهٔ نزدیک انتظار آنرا داشته باشند که جامعه بین المللی از تائید و حمایه از همچو یک حکومت مایوس گردیده و با رخت بر بستن از آن این کشور را برای سوختن در آتش فتنه های همسایگان مترصد فرصت و عقده مند تنها بگذارد. ...

(بقیه در صفحه دوم)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

آتشی که افغانستان را بسوزد پاکستان هم از آن در امان نخواهد بود

جمله معروف جهاد افغانستان دفاع پاکستان در ذهن هر پاکستانی جای خودش را دارد. بجز کمونیست های مارک ماسکو که در هر کجائی حکومت جهانی شوروی وقت را بر سرزمین آبائی خود هم جز اهداف مقدس نمای شان می دانستند، دیوار انسانی ایرا که ملت افغان در برابر آرمان رسیدن اتحاد شوروی به آبهای گرم بحیره عرب دو ملیون انسان را قربان نمود برای هر پاکستانی باید قابل قدر باشد، و به آن ارج بگذارد.

می پذیریم که ملت مسلمان پاکستان با آغوش باز پنج ملیون برادران افغان خود را در آب، نان و فضای خود شریک ساخته اند، ولی اگر امروز دیدن ۲۴ تابوت از اجساد افسران نظامی این کشور بر آنها گران می نماید آنها باید به این توجه نمایند که بالغ به سه دهه است که استقبال اشک بار از همچو تابوتها جزء فرهنگ معمول برادران افغان شان شده است. که حکومت پاکستان در حمل مسؤولیت در برابر این جفاها بی بهره نمی ماند.

هر گاه حکومت وقت پاکستان به وسوسه های جنرال متقاعد نصیرالله بابر طالبان را در سقوط دادن نظام ۱۹۹۶ مسلط بر کابل یاری نمی کرد، حکومت تشکیل شده از احزاب جهادي ایکه وضع را به طرف عادی شدن می کشانید و ممکن بود در آنوقت باقیمانده گروه ها و خاصتاً طالبان به ساده گی در ترکیب آن شامل می شدند و راه را برای یک انتخابات آزاد و عادلانه باز می کرد و کار انصار جهاد به جائی نمی رسید که با مقدرات کشور ما بازی کنند. اگر پرویز مشرف با فرمایش حلقات آزمند، ناعاقبت اندیشانه فضای دیموکراتیک پاکستان را به یک حکومت دیکتاتوری مارشال لایی مبدل نمی کرد و نظام طالبان را به یکه تازی تا هاویه سقوط کامل تشویق نمی نمود حکومت نواز شریف که حمایه بیش از دو ثلث پارلمان پاکستان را با خود داشت می توانست خودش و برادرش شهباز شریف وزیر اعلی پنجاب برای طالبان حدودی در پاکستان ترسیم نمایند و آنها را وادار کنند از یکه تازی دست برداشته و با ملت خود کنار آیند. اکنون که حکومت پاکستان بر نظام موجود افغانستان اعتراض مینماید که گویا از سرزمین خود جلو تجاوزات نیروهای ناتو بر پاکستان را بگیرد.

جمله دیگر مرتبط به این تهدیدها بسته شدن میدان هوائی نظامی شمسی در بلوچستان بر روی طیارات امریکائی خاصتاً طیارات بی پیلوت بم افگن است که با استفاده از خاک پاکستان هر دو کشور افغانستان و پاکستان را آماج راکت ها و بم ها قرار می دهد. پس اعتراض در کجا است، مگر این پرویز مشرف حاکم نظامی پاکستان نبود که سرزمین وسیع پاکستان را در اختیار نیروهای امریکائی برای انداخت میزایل های کروز امریکائی و قتل و کشتار بی رحمانه بر برادران مسلمان افغان خود ساخته بود.

اکنون که ده سال است حکومت پاکستان نه تنها جوال دوز را بر جان برادران افغان خود روا دیده که بر حواله کردن هزاران و ملیونها از آن بر فرق افغانها شریک مسؤولیت است، حادثه پیش آمده هفته قبل را به مثابه سوزنی بجان خود بپذیرد.

ما و ملت مسلمان افغان از فاجعه پیش شده رنج می بریم و در این درد و ماتم خود را با ملت مسلمان پاکستان شریک می دانیم و به فامیلهای این شهدا ابراز تعزیت و همدردی و دعای مغفرت به شهدای حادثه می کنیم. ولی از حکومت پاکستان انتظار داریم برای خاموش نمودن آتشی که منطقه را فرا گرفته است، ملت مظلوم افغان را که برادران مسلمان هم کیش و هم فرهنگ شریک تاریخی اوشان اند یاری دهند، زیرا فاجعه اخیر مبین این حقیقت تلخ است که "آتشی که افغانستان را بسوزد پاکستان هم از آن در امان نخواهد ماند."

با آنکه ما در ترکیب و تسمیه کنفرانس بُن دوم ملاحظات خود ما را داریم دولت پاکستان به بهانه فاجعه مهمند ایجنسی از شرکت در همچو اجتماعات دریغ نه نماید.

کنفرانس بُن دوم؟!

از نظر مشترکین کنفرانس بُن اول

(ادامه از صفحه اول)

... زمانی کنفرانس بُن دوم عنوان میشود لازم است با بُن اول بی ارتباط نباشد و هر گاه جامعه جهانی بخواهد کردار ده سالهٔ حضور نظامی، سیاسی، اقتصادی و فرهنگی خود را در افغانستان مورد ارزیابی قرار دهد و با میزان همکاری های بی دریغ خود با حکومت موجوده افغانستان دست آوردهای آنرا محاسبه کند بخاطر داشته باشد که کنفرانس بُن اول از چهار جهت ترکیب یافته بود (گروه روم شامل هواداران شاه مخلوع، گروه دوم ائتلاف شمال که پس از سقوط کابل در اثر بمباردمان قوای ائتلاف بین المللی آنها بر آن مسلط شده بودند، گروه سوم مجموعه صلح پشاور که در تصرف اقارب و خانواده پیر سید احمد گیلانی افتاده بود و گروه چهارم کنفرانس قبرص که از شخصیت های مستقل افغانی از سراسر جهان و شخصیت های جهادی تشکیل شده بود).

به اعتراف آقای محمد یونس قانونی نماینده ائتلاف شمال در این کنفرانس که در دورهٔ گوشه نشینی شان پس از شکست در انتخابات ریاست جمهوری همان دوره اظهار داشتند "در تشکیل نظام موقت با گروه روم کنار آمدیم و نتایج خوب بدست آوردیم اکنون گروه روم انحصار طلبی میکند"، خانواده آقای گیلانی به بخش اندک گرفتن امتیاز در نظام قانع گردیدند و کنفرانس قبرص از شمول در یک ترکیب سازشی ابا ورزید. اکنون آنچه بنام کنفرانس بُن دوم دایر میگردد لازم است برعلاوه اشتراک کنندگان بُن اول آن جهت هائیکه که از کنفرانس متذکره بیرون گذاشته شده بودند، هم حضور یافته برای بیرون رفت از یک حالت بحرانی که تنها در جهت بقای یک حالت نیم بند دست ما به گدایی به طرف جهانیان دراز است و تا سرحد معامله گری به بهائی استقلال سیاسی کشور رسیده راه حل اساسی را جستجو نمایند.

هر گاه افراد یک ملت واحد را بحث منطقی و مستدل برای دوام زندگی مشترک در روشنائی میثاق های ملی و متفق علیه و خاصتاً کتاب مقدس قرآن عظیم الشأن که همه مدعی پیروی از آن هستیم نتواند جمع کند دور و یا نزدیک قوای دفاعی و امنیتی که در بدل اجرت از مساعدت هائی بیرونی استخدام شده در دفاع از نظامیکه قادر به حل مشکلات ملی خود نباشد خسته و مأیوس گردیده و نظام را به سقوط و نابودی محکوم نماید و شخصیت های هوسی ایکه با حلوا گفتن دهن شیرین می نمایند و از تسلط بر یک نظام مرکزی ایکه همه کاره در آن خودشان هستند به فرار مجبور سازد و این ملت مظلوم است که نه خود و نه خانواده اوشان حامل پاسپورت و جنسیت کدام کشور اجنبی است مانند همیشه در آتش خواهند سوخت و معلوم نیست که دروازه های مهاجرت به سوی پاکستان و ایران هم بر رخ شان باز خواهد بود یا بسته؟

اگر باز هم هشت سال پس از امروز کدام مبتکر این کنفرانس مانند اخضر ابراهیمی پیدا شود که کنفرانس دوم بُن را ناقص خواند و دایر شدن آنرا با این ترکیب یکطرفه اشتباه عنوان کند بر عقل وتدبیر جامعه جهانی و آقایون مسلط بر نظام در کابل باید خندید.

چه شرم آور است که صدای معترضین کنفرانس بُن اول در ناقص بودن ترکیب آن خفه گردیده و آنهائیکه به سازش در آن تن ندادند در کمال وقاحت به حاشیهٔ اغماض کشانیده شدند و مرد ناسنجیده ایکه مست وعده های دروغین و گزافه گویی های مبالغه آمیز بعضی از اشخاص و گروه های شامل کنفرانس شده بود پس از هشت سال تحمیل نمودن نظامیکه قتل و غارت و خونریزی و تصرف ناروا بر ملکیت های عامه و زمینه سازی برای تسلط مافیایی انحصاری عدهٔ بر جان، مال و آبرو و حیثیت مردم ما روا داشته است اعتراف کند که کنفرانس بُن ناقص بوده و دردعوت نه شدن بعضی از جهت ها درآن اشتباه شده است.

در حالیکه این مرد باید در محکمهٔ بین المللی لاهه در برابر جرایمیکه در ظرف هشت سال در این کشور صورت گرفته به محاکمه کشانیده شود به دولت موجوده اجازه داده نشود که با مصارف گزاف از جیب هر کسی باشد کنفرانس ناقصی را به عنوان کنفرانس بُن دایر نماید و جامعه جهانی باز هم فریب خورده بر غلطی های ده سالهٔ آن صحه بگذارد و برای دوام تصرفات مافیایی اش به ادامه کمک ها تعهد بسپارد، و هر گاه کنفرانسی که نتواند با اشتراک همه جهت های مطرح در قضیه دایر گردد و به فیصله هائیکه متضمن آوردن امنیت و کوتاه نمودن دست اجانب از این کشور گردد، نشود لزومی ندارد که اسم نامسمای بُن دوم بر آن عنوان گردد، چه مشترکین کنفرانس بُن اول بجز چند تن محدود که در استخدام نظام موجوده اند، هیچکدام به این اسم موافق نبوده و این کنفرانس جز اینکه اسباب نفرت و انزجار ناشی از انحصار طلبی نظام را در اذهان اثاره کند نتیجهٔ دیگری نخواهد داشت، که عاقبت ناگوار آن مواجه شدن نظام نیم بند موجوده با مشکلات و چلنج های جدیدی میتواند باشد و بس.

افغانان ملامت دي او که گاونډیان؟

محمد خلیل

څینو گاونډیو هېوادو په افغانستان کې امریکایي ځواکو ته د لسو کلو لپاره د پوځي اډو د ورکولو له هغې پرېکړې سره خپل مخالفت څرگند کړی چې د لړم په ۲۸ مه مشورتي لویې جرگې کې پرې گډونوالو اولسمشر ته مشوره ورکړه، کېدې شي د گاونډیو هېوادو دا مخالفت دهغوی په اند صحیح وي خو افغان ولس هم له هغوی ددې پوښتنې حق لري چې تاسې د لویې جرگې ددغې پرېکړې ولې مخالفت کوئ، آیا همدا تاسې نه وئ چې پر افغانستان د امریکایي او ناټو ځواکونو د یرغل په وخت مو دهغوی ملاتړ وکړ، زمکنی او هوایي اډې مو په واک کې ورکړې، روسیه او چین په ملگرو ملتو کې د ویټو حق استعمال نه کړ. پاکستان روسیه او کرغیزستان خو تر دې مهاله لگیا دي خپلې پوځي اډې او لوی سړکونه د لوژستیکي موادو د تېرولو لپاره دهغوی په اختیار کې ورکړی دي، په داسې حال کې چې افغانستان له څلورو خواو کلابند شوې او گاونډیان هم د افغانانو ازلي دښمنان جوړ شوي، یو گام هم د افغانانو په گټه نه اوچتوي، له ډول ډول کړاوونو او پریشانیو سره یې مخامخ کړی، لاسونه یې تړل شوي د پرمختگ لارې ورباندې بندې دي، له کړاوونو څخه د ویستلو لپاره ورسره څوک مرسته نه کوي بلکې هر یو په دې انتظار کې دی چې د فرصت په وخت کې ورباندې ټوپ ووهي او له مرۍ نه یې تېر کړي افغانان لدې پرته نور څه کولې شي چې د خپلې خاورې او ژوند د ساتلو لپاره له امریکا او د نړۍ نورو ځواکمنو هېوادو سره ستراتیژیک تړون لاس لیک کړي.

گاونډیان دې له دې ښکاره حقیقت نه انکار نه کوي چې د لویې جرگې گډونوالو له امریکا او نورو هېوادو سره د ستراتیژیک تړون د لاسلیکولو کومه پرېکړه کړې دا د گاونډیانو دهغه مجبوریت او مفاداتو څخه زیات مهم دی چې لس کاله وړاندې چارواکو او پوځ د خپلو هېوادو د بقا لپاره له امریکا سره د ودرېدو اعلان وکړ، که چېرته هغوی خپل دغه عمل ته گناه نه وایي او د خپلو هېوادو په تاوان نه بولي نو یواځې افغانستان په دې خبره څنگه د ملامتی هدف گرځېدلې شي؟ که چېرته په اټومي وسلو سنبال هېوادونه له امریکا او ناټو غړو هېوادو سره د دښمنی او جگړې توان په ځان کې نهویني او له هغوی سره عملي مرسته کوي نو له افغانانو سره کومه سلیماني ټوپی ده چې له هغوی سره په یواځې ځان جگړه پرمخ بوځي؟!

که گاونډي او د سیمې نور هېوادونه واقعاً د امریکا او ناټو ځواکونو حضور په سیمه کې خطر گڼي نو بیا هغوی په لومړی گام کې له خپلو هوایي او سمندري اډو څخه ولې نه شړي؟ له خپلو سړکونو څخه د لوژستیکي موادو او وسائلو له تېرولو څخه ولې نه بندوي؟ په افغانستان کې د نه لاسوهنې او د ښه گاونډیتوب تړونونه ولې نه امضا کوي؟ افغانانو ته دا قناعت ولې نه ورکوي چې تل لپاره به د افغانستان په حریمونو به تېرې نه کوي؟! اصلاً لویه تېروتنه او جفا د گاونډیانو له لورې شوې او همغوی د ټولو ناوریتونو مسؤولیت په غاړه لري، د افغانستان مسلمان ولس پرون هم چمتو و او نن هم چمتو دی چې خپلو گاونډیانو او د سیمې نړدې هېوادو ته د ښه گاونډیتوب او د یو بل په خاوره کې د نه لاسوهنې ضمانت ورکړي.

تاسې افغانانو ته کوهي کنستي وه نو لدې متل نه خبر نه وی چې څوک بل چاته کوهی کني پخپله پکې غورځېږي. نن تاسې هم د هغې کوهی پر غاړه ولاړ یاست چې موږ لپاره مو کنستې و او ددې ټولو پړه پر تاسو ده نه پر افغانانو.

افغانان له رواني ناروغيو سره لاس اوګریوان دي

مجيب الرحمن "اميری"

افغانان شاوخوا دېرش کلنۍ کورنۍ جګړې او له دې جګړې څخه متولدو ناخوالو پر مختلفو رواني ناروغيو اخته کړي او د ناروغيو کچه يې بيا په وروستي لسيزه کې خپل اوج ته رسېدلې ده.

رواني ناروغي تر نورو ناروغيو يو څه بل ډول وي، داسې نه وي، چې د سړي وجود يا د وجود غړي ورسره په درد وي او يا تبر خورېږي، خو په ټوليز ډول بيا .دا ناروغي شايد تر نورو ناروغيو يو څه خطرناکه او شديده وي، دا ځکه چې غير رواني ناروغی ژر تداوي کېږي، خو رواني ناروغی ژر نه شي تداوي کېدای او ځينې خو يې داسې هم دي، چې ببخي صعب العلاجه بلل کېږي او بلاخره په لېونتوب منجر کېږي. که په افغانستان کې د رواني ناروغيو پسمنظر په صحيح توګه مطالعه کړو، ويلای شو، چې رواني ناروغيو په دې هېواد کې له ډېر پخوا نه څه ناڅه وجود درلود، خو هغه مهال د تشخيص دومره پرمخ تللې ټکنالوژۍ نه وه موجوده چې د دا ډول ناروغيو درک يې لګولی وای او نه يې هم کچه د اوس په پرتله په بره ختلې وه، اما اوس اوس دا ناروغي تر بل هر وخت په دې هېواد کې زياته شوې او دا کچه ورو ورو په لوړېدو ده او د هرې ورځې په تېرېدو سره د دې ډول ناروغيو د ناروغانو په شمېر کې زياتوالی راځي. موده مخکې په دې اړه په يوه خپاره شوې راپور کې ويل شوي وو، له څه وخته راهيسې له افغانستان څخه کوټې ته د هغه ناروغانو راتګ زيات شوی دی چې پر اعصابي او رواني ناروغيو باندې اخته دي او شمېر يې ورځ په ورځ پسې زياتېږي.

په افغانستان کې د څه له پاسه دريو لسيزو جګړو په دوران کې ډېری کسان د ناوړه ژوند تېرولو سره سره پر بېلابېلو ناروغيو اخته شوي دي. که څه هم تر اوسه پورې په افغانستان کې د درملنې لپاره ښه او پوره زمينه نه ده برابره او ډېری ناروغان بهرونيو ملکونو ته د درملنې لپاره ځي، نو دا رنګه په کوټه کې هم د اعصابي او روحي ناروغيو پر متخصصو ډاکټرانو باندې د ناروغانو ډېره ګڼه ګوڼه وي. دغه ناروغان چې د افغانستان له بېلا بېلو سيمو څخه هلته ځي، زياتره يې بلوچستان ايالت ته نژدې ولايتونو لکه کندهار، هلمند، هرات او داسې نورو سيمو خلک وي. دوی بلوچستان ايالت مرکز کوټې ته د درملنې لپاره ځي.

تېر کال نړيوالو رسنيو هغه راپورونه خپاره کړل چې په افغانستان کې د حکومت، ناټو او د طالبانو تر منځ د جګړې په مهال داسې وسلې کارول کېږي چې هغه پر اعصابو باندې ناوړه اغېزه کوي. نه يوازې دا چې په افغانستان کې د جګړې پر مهال د زهري له وسلو د استعمال له وجې خلک پر اعصابي ناروغيو اخته کېږي، بلکې دلته هر چا او هرې کورنۍ يو دوه کسان له لاسه ورکړي دي، د دې ناروغيو لويه وجه يې همدا ده.

څه وخت وړاندې د ملګرو ملتونو روغتيايي ادارې هم په خپل يوه راپور کې دا ډول وسلو ونه کړو او يوازې دا فکر ونه کړو، چې د رواني ناروغيو اصلي لامل کيمياوي وسلې دي، بلکې دا ډول ناروغی ډېر نور مهم اړخونه هم لري. له هغو جملې نه يو بې امنۍ ښوولای شو، دا داسې يو څه دي، چې پخپله په انسان کې د اندېښنو، وېرې، اضطراب او ورخطايي لامل کېږي او دا ورو ورو په انسان کې رواني ناروغيو ته لار پرانېزي. بل څه چې بايد اشاره ورته وکړو، دادي، چې په دې هېواد کې لوږه او فقر په کافي اندازه واکمن دي، د دې هېواد نژدې اتيا يا نوي په سلو کې خلک له لوږې

ويلي وو چې په دوه زره شلم کال کې به په نړۍ کې تر ټولو زياتې دوايانې د اعصابي ناروغيو استعمالېږي، ځکه چې خلک له يو لړ ستونزو سره لاس او ګرېوان دي او په دې توګه دا ناروغي تر بل هر ځای په افغانستان او له افغانستان سره سره په کوټه او پېښور کې هم ډېرې زياتې دي او وجه يې هم بد امني، له بدامنۍ څخه پيداکېدونکې نورې ناخوالې، ډول ډول وسلې کارول او نور دي.

دا په داسې حال کې ده چې کارپوهانو لا له مخکې په افغانستان کې په يورانيوم او داسې زهري وسلو د کارولو په اړه خپګان ښکاره کړ چې د داسې وسلو په استعمال په نړيواله کچه بنديز لګول شوی دی. وړم کال داسې اسناد هم خپاره شول چې له مخې يې څرګندېدله چې امريکا او ناټو پوځونو په افغانستان کې په يورانيوم ککړې وسلې کارولې، چې له امله يې د انسانانو پر روغتيا، نويو زېږېدلو ماشومانو پر بدشکله کېدواو د حيوانانو تر څنګېر کرهڼه هم بده اغېزه کړېده.

خو په ټوليز ډول موږ ويلای شو، چې رواني او عصبي ناروغی ډېر نور مهم لاملونه هم لري. پر يورانيمو ککړې وسلې هم د رواني ناروغيو په کچه کې لوړوالی راوستلی شي او د بېلابېلو نورو نارغيو لامل هم کېږي، خو موږ بايد ټوله اتکا يوازې پر

او فقر څخه سرټکوي، خو له همدې جملې نه شايد شل يا دېرش په سلو کې داسې خلک هم وي، چې د ژوندانه لومړنيو اړتياوو ته هم سم لاسرسی ونه لري او دا هم پخپله په انسان کې د رواني ناروغيو وجود پياوړی کوي او انسان له ډول ډول رواني ناروغيو سره مخ کوي. بل څه چې مهم دي، دادي، چې په دې هېواد کې سخته بېکاري موجوده ده، روزګار نه شته، کار نه شته، خلک د يوې ګولې ډوډۍ پيدا کولو لپاره له ډېرو اندېښنو او خطرونو سره مقابله کوي، چې دا هم د انسان پر نفسياتو ناوړه اغېزه اچوي او رواني ناروغی ته لار پرانېزي. همدارنګه ټولنيز عدالت او ټولنيز سلوک هم تامين نه دی. کله چې ټولنيز عدالت او ټولنيز سلوک تامين نه وي، خلک ناراحتی، حدس، کرکې ته مخه کوي او بلاخره د هغوی پر روح او روان باندې ناوړه اغېزه اچوي او له رواني ناروغيو سره يې مخ کوي. په دې ډول بايد ووايو، چې رواني ناروغی يوه فردي ستونزه نه ده، بلکې دا يوا ټولنيزه ستونزه ده او ټولنيز حل ته اړتيا لري، چې تر ډېره يې ټولنيز حل هم په ټولنيز ثبات او سوله کې دی او تر څو چې سوله او ثبات رامنځ ته نه شي، نو شايد په دې هېواد کې د رواني نارغيو کچه نوره هم ډېره په بره لاړه شي.

د اسلامي تاريخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(نهه ويشتمه برخه)

س ۴۸۶: لومړی لوي جنګ چې د مسلمانانو او مشرکانو تر منځ واقع شو کوم و؟ ځ: لومړی لوي جنګ چې د مسلمانانو او مشورکانو ترمنځ واقع شو د بدر لوي جنګ و.

س ۴۸۷: د مسلمانانو لپاره د پوهې لومړی مصدر څه شی دی؟

ځ: د مسلمانانو لپاره د پوهې لومړی مصدر قرآن کريم دی.

س ۴۸۸: د جنګ په هکله لومړی کوم آيت نازل شوی؟

ځ: لومړی آيت چې دجنګ په هکله نازل شوي هغه د الله پاک دا قول دی: ((أذن للذين يقاتلون بانهم ظلموا ...)) سورت حج ۲۹ آيت.

س ۴۸۹: چا لومړی د قرآن د تفسير په هکله پخواني عربي شعر ته په مراجعه زور واچاوه؟

ځ: ابن عباس لومړی شخص و چې د قرآن د تفسير په هکله يې پخواني عربي شعر ته مراجعه و کړه او لکه څنګه چې حسن ابراهيم ويلي چې طبري لومړی دا کار کړی درسته نه ده.

س ۴۹۰: څوک لومړی سړی و چې دقرآن په ظاهري نص يې اکتفا کوله؟

ځ: ابو سليمان داود قاشاني د علي ځوي لومړی د قرآن په ظاهري نص اکتفا کوله، دی قاشان ته منسوب و چې اصپهان ته نږدې پروت دی. او په ۲۷۰ ه کال په بغداد کې وفات شوی دی.

ابن نديم د خپل کتاب (فهرست) په ۳۰۲ صفحه کې وايي: قاشاني لومړی سړی دی چې په ظاهری قول يې اکتفا کړي، او قرآن او سنت يې نيولي د نور هر څه لکه رأي او قياس يې پرېښودي دي، او له همدې وجهې ورته ابوسليمان داود ظواهري ويل کيږي.

س ۴۹۱: چا لومړی په اسلام کې د محاسبې نظام تطبيق کړ؟

ځ: عمر بن خطاب دوهمه خليفه لومړی هغه شخص و چې د محاسيبي نظام يې تطبيق کړ.

س ۴۹۲: په عربي ژبه کې لومړی معجم (قاموس) چې د هجا د تورو په اساس ترتيب شوی دی کوم دی؟

ځ: (کتاب العين) لومړی عربي معجم دي چې د هجا تورو په اساس ترتيب شوی دی.

س ۴۹۳: چا لومړی عربي ته د کيميايي علومو په رانقلولو غور و کړ؟

ځ: خالد د يزيد ځوي او د معاويه لمسی لومړی سړی و چې د کيميا علوم يې عربي ته را نقل کړل.

س ۴۹۴: لومړی شفاخانه په اسلام کې کومه شفاخانه وه؟

ځ: لومړی شفاخانه په اسلام کې هغه خيمه وه چې د خندق غزا پر مهال پيغمبر عليه السلام په مدينه کې ودرولې وه او يوه ښځه (رفيده) يې په کې د مريضانو د علاج په موخه ګومارلې وه.

س ۴۹۵: لومړی سړی څوک و چې شفاخانې يې په پراخه شکل جوړې کړې او متخصصين ډاکټران يې په کې په دندو و ګومارل؟

ځ: وليد د عبد الملک ځوي د امويانو خليفه لومړی سړی و چې زياتې شفاخانې يې جوړې کړې او متخصصين ډاکټران يې په کې په دندو و ګومارل، تنخواګانې يې ورته و ټاکلې او معيوبين يې په لارو کې د سوال کولو نه منعه کړل.

س ۴۹۶: چا لومړی د بصرې ښار نقشه جوړه کړه؟

ځ: عتبه د عزوان ځوي لومړی سړی و چې د بصرې ښار نقشه يې جوړه کړه او لس کاله پرې لا نه وو تير شوي چې په نړۍ کې په يو لوي تجارتي ښار بدله شوه.

س ۴۹۷: د قرآن کريم لومړی حافظ څوک و؟

ځ: حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د قرآن کريم لومړی حافظ و، پيغمبر عليه السلام به د وحی پر مهال قرآن کريم د جبرائيل عليه السلام سره په دې موخه چې حفظ يې کړي تکرارولو، بيا الله پاک دا آيت نازل کړ [سوره القيامة: ۱۶ – ۱۹ آيتونه کې] د (جمعه) معنا حفظ دی، او په دې لحاظ پيغمبر عليه السلام د قرآن کريم لومړی حافظ دی؛ ځکه چې الله پاک د ده حفظ کفالت پخپله کړی، او الله پاک خپله وعده پوره کړه. خو ځينې علماوو (جمعه) د قرآن په ليکنی کړی ده. و الله اعلم.

لکه چې په پورته کرښو کې ياده شوه چې (جمعه) په دوه معناګانو راغلی: يعني حفظ او کتابت يا ليکنه.

س ۴۹۸: کله قرآن کريم د لومړي ځل لپاره جمع يعني و ليکل شو؟

ځ: د قرآن مجيد جمعه د کتابت (ليکنی) په معنا لومړی د پيغمبر عليه السلام په زمانه کې شوی، مګر دومره خبره وه چې دا ليکنه يو ځای لکه د نن په شان د کتاب په شکل نه وه. داسې وه چې د قرآن يوه برخه به د يو چا او بله برخه به د بل چا سره وه، تر دې چې پيغمبر عليه السلام وفات شو، او قرآن مجيد د خلکو په سينو بېلا بېلو ليکنو کې محفوظ و، آيتونه او سورتونه يې په يو مصحف ترتيب شوي نه و. که چېرې څوک ووايي په دې کې څه حکمت و؟ د دې ځواب حطابي داسی کړی، قرآن ځکه د هغه وخت سره سم ترتيب شوی نه و چې د ځينو احکامو او يا تلاوت د نسخه توقع کيدله. کله چې پيغمبر عليه السلام وفات شو او د قرآن کريم نازيليدل ودريدل، الله پاک خليفګانو ته د قرآن کريم د ليکنې او جمعه کولو الهام چې د الله پاک هغه وعده پوره شي چې د قرآن د ساتنې په هکله يې کړې ده، نو د قرآن مجيد د جمعه کولو شروع ابو بکر صديق د عمر رضي الله عنهما په مشوره و کړه، د پيغمبر عليه السلام په زمانه کې د قرآن شريف جمعه او ليکنه په لومړی جمع ياديږي.

(نور بيا)

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

افغانستان نن له پخوا مصون دی، خو تر اوسه زموږ مرستو ته اړتیا لري

واشنګټن پوسټ:
په افغانستان کې د ناټو ملکي استازی سایمن ګس په واشنګټن پوسټ ورځپاڼه کې افغانستان نن ورځ له پخوا مصون دی خو تر اوسه زموږ مرستو ته اړتیا لري، تر سرلیک لاندې په یوه مطلب کې لیکي، امریکایي ځواکونو فکر کاوه چې په هلمند کې چې د طالبانو یو قوي مرکز وو، د وسله والو طالبانو په وړاندې عملیاتو کې به چې په اکتوبر میاشت کې یې پیل کړی و، له سخت مقاومت سره مخ شي خو داسې ونه شول، طالبانو د مقاومت پرځای له سیمې پښې سپکې کړې.
سایمن ګس وایي، موږ باید دا پیشبیني کړې وی ځکه د هغه په وینا طالبان په تیر یوه کال کې په هلمند کې چې دا ولایت د افغانستان په جنوب او جنوب لویدیځ کې د وسله والودفعالیتونو اصلي مرکز و، سخت ځپل شوی و.
ګس ویلي، طالبانو خپل جنګي مورال بایللی، د افرادو په جلب او جذب او د پیسو او تجهیزاتو په برخو کې له ستونزو سره مخ دی او هم دوي په هغه جنګي کمپاین کې پاتې راغلي چې په تیر دوبي کې یې پیل کړی و.
واشنګټن پوسټ لیکي، د طالبانو د دغوټولو ماتو علت په سیمه کې د امریکایی او د ناټو د نورو متحدینو د عسکرو د شمېر زیاتوالی دی.
په افغانستان کې د ناټو ملکي استازی وړاندې لیکي، دا ټول پرمختګونه دا مانا نه لري چې موږ بریالي شوي یو، د افغانستان د ختیځ وضعیت چې زموږ حضور په کې کم و، بل ډول دی، موږ او افغان ملګری مو ډیر کارونه په مخ کې لری چې باید ترسره یې کړي.
سایمن ګس دغه راز ویلي، افغان امنیتي ځواکونه پیاوړی شوی او هغه وخت نور پای ته رسیدلی چې د طالبانو په وړاندې جګړه کې یې وړتیا کمزوری وه.
دی وایي، ناټو بیا هم دی ته اړتیا لري چې د دغو ځواکونو روزنې ته چې چارې یې دوه کاله مخکې ګړندی شوي، په همدې شکل دوام ورکړي.
په افغانستان کې د ناټو ملکي استازی د مطلب په دوام کې په دی ټینګار وکړ چې ناټو به تر۲۰۱۴ کال پورې امنیتي مسولیتونه په بشپړه توګه افغان امنیتي ځواکونو ته وسپاري، خو د دې کار د بشړیدو لپاره موږ قوي ځواکونو ته اړتیا لرو، چې په راتلونکو دوو کلونو کې د سخت دریځو وسله والو ټکولو ته په شدت دوام ورکړي او وروسته مسولیتونه افغانانو ته وسپاري.

ګارډین:
د بریتانیا چاپ ګارډین ورځپاڼې هم د هلمند ولایت په اړه یوه لیکنه خپره کړی او په هغې کې یې د دې ولایت په نادعلي ولسوالی کې چې د بریتانوي عسکرو ډیره برخه په کې دیره وه، افغان ځواکونو ته د امنیتي مسولیتونو د لیږدولو په اړه لیکلي، په دې ولسوالی کې چې د تریاکو د تولید اصلي مرکز دی، لږ تر لږه دیرش بریتانوي عسکر وژل شوي دي.
د ګارډین په وینا له هغه وخت راهیسې چې په هلمند ولایت کې د امریکایي ځواکونو شمېر زیات شوی ورسره د نادعلي ولسوالی امنیت هم ډیر ښه شوی دی.

کمک ها و تعهدات بین المللی...

به گفته آقای زاخیل وال، افغانستان پس از سال ۲۰۱۴ میلادی به پنج تا شش میلیارد دالر کمک نیاز دارد.
کنفرانس بن در مورد آینده افغانستان به تاریخ پنجم دسمبر، یعنی دوشنبه هفته آینده آغاز می شود.
در این کنفرانس نماینده های بیش از نود کشور جهان و سازمان ها و موسسات مختلف در باره تعهدات درازمدت همکاری ها با افغانستان بحث خواهند کرد.
در عین حال معین وزارت خارجه افغانستان، کنفرانس بن را خیلی ها مهم خوانده است.
جاوید لودین گفته که در این کنفرانس، گام های مهمی در باره آینده افغانستان برداشته خواهد شد و در جریان آن در باره انتقال مسوولیت های امنیتی، کمک های بین المللی و تعهدات سیاسی بحث می شود.
آقای لودین گفت:
"ما پیروزی های زیادی را به دست آورده ایم و این یک فرصت است تا دست آورد ها ارزیابی شوند اما در عین حال این یک فرصت برای گفتگو روی چالش هائی ست که در آینده متوجه افغانستان است."
اشرف غنی احمدزی مسوول پروسه انتقال گفته که تسلیم دهی مسوولیت های امنیتی از نیرو های خارجی به نیرو های افغان، از اولویت های گفتگو ها در کنفرانس دوم بن خواهد بود.
در آستانه این کنفرانس، رییس جمهور کرزی به روز یکشنبه اعلان کرد که مسوولیت های امنیتی هژده منطقه افغانستان به شمول شش ولایت، به نیرو های افغان سپرده خواهد شد.

هند او کاناډا د حاجي ګک کان...

د افغانستان د کانونو جواد عمر وزارت وینډوی ازادی راډیو ته وویل، چې د حاجي ګک کان بي سي او ډي برخې قرارداد له هندي شرکتونو سره تصویب شوي خو د اې برخې قرارداد کاناډایي کمپنی ته ور کړای شوي دي.
د ده په وینا چې له کاناډایي کمپنی او هندي کنسورشیم سره شوي قرارداد به یو ځل بیا د کابینې له لوري له ځېړلو وروسته تصویب شي، جواد عمر وویل:
"له وروستي تاییده وروسته به په راتلونکي کال کې د دې کان د تفحص او اکتشاف پړاو پیل شي، وروسته د تخنیکي مطالعو د راپور تر بشپړېدو وروسته د استخراج مرحله شروع کېږي چې دا کار پنځه یا اووه کاله وخت غواړي."
د افغانستان د کانونو د وزارت په وینا له اټکلونو سره سم حاجي ګک کان یو میلیون او اته لکه ټنه اوسپنه لري.
د هندي کمپنیو کنسورشیم ویلي، چې ممکن د دې کان د استخراج لپاره پر سر کونو، د اورګاډي پر پټلۍ او د وسپنې د ویلې کولو پر فابریکې شپږملیارد ډالره پانګونه وکړي.

د امنیتي چارو د لېږد دوهم پړاو...

امنیتي لیږد دوهم پړاو به د بن کنفرانس وړاندې په یو شمېر سیمو کې پیل شي.
د ملي دفاع وزیر دغه راز د امنیتي چارو د بریالي اخستلو په اړه بیا له هیواد ځخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو ترځنګ د افغان ځواکونو د روزنې او سمبالنې په اړه ډاډ ورکړ.
یاده دې وي، چې له بهرنیو ځواکونو ځخه افغان ځواکونو ته د امنیتي چارو د دوهم پړاو سیمې، چې سپارل کېږي په بشپړه توګه د بلخ ،دایکندي، تخار،سمنګانو، کابل او نیمروز ولایتونه دي.
همداراز د جلال اباد، چغچران، شبرغان، فیض اباد، غزني، میدان ښار او قلعهٔ نو ښارونه او د بدخشان، بادغیس، هلمند، هرات، لغمان، ننګرهار، پروان، سرپل او د میدان وردګو ولایتونو یو شمیر ولسوالی هم د امنیتي لیږد په دوهم پړاو کې شاملې دي.
دا په داسې حال کې ده، چې افغان دولتي چارواکو، په ځانګړې توګه د ملي شورا غړو، سیاسي او نظامي کارپوهانو تل له بهرنیو ځواکونو ځخه افغان ځواکونو ته د امنیتي چارو د سپارلو د بریالیتوب په خاطر د افغان امنیتي ځواکونو په ښې او لازمي روزنې او دغه راز په درنو ځمکنیو او هوایي وسلو د سمبالولو غوښتنه کړې. چې ناټو او امریکایي چارواکو هم دې غوښتنې ته مثبت ځواب ویلی دی.
ټاکل شوې، چې له بهرنیو ځواکونو ځخه افغان ځواکونو ته د امنیتي چارو د سپارلو لړی به د ۲۰۱۴ کال پورې بشپړه شي، او له هغې وروسته به بهرني ځواکونه له هېواده وځي، خو ویلي یې دي، چې له افغان امنیتي ارګانونو سره به خپلې مرستې جاري ساتي.
یاده دې وي، چې له بهرنیو ځواکونو ځخه افغان ځواکونو ته دامنیتي چارو د سپارلو دوهم پړاوو په داسې حال کې پیلیږي، چې دامهال د هیواد د دریو ولایتونو کابل، بامیانو او پنجشیر او دغه راز د هرات، لښکرګاه، مهترلام او مزار شریف ښارونو امنیتي چارې د اتو میاشتې راهیسې د افغان ځواکونو لخوا اداره او پرمخ وړل کیږي.

پاکستان د بُن په کنفرانس کې...

او ۱۳ نور یې ټپیان کړل.
پاکستان پر دې برید سخت غبرګون وښود او په اسلام اباد کې یې دامریکا سفیر احضار کړ، په واشنګټن کې یې امریکا او په بروکسل کې یې ناټو ته شکایت وکړ. دغه راز دپاکستان استازي پرون د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته هم په دې اړه یو لیک وړاندې کړی دی.
له دې مخکې داسې اوازې وې، چې پاکستان د افغانستان په اړه په جرمني کې جوړېدونکې د بن په کنفرانس کې ګډون نه کوي، خو نن ددغه هېواد د مرکزي حکومت وزیرانو شورا په دې رسمي پرېکړه وکړه، چې په بن کانفرانس کې به ګډون نه کوي.
ټاکل شوې ، چې د رواني میاشتې په څوارلسمه نېټه د جرمني په بن ښار کې د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانس جوړ شي او په کې د شاوخوا ۹۰ هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازي ګډون وکړي.
د پاکستان د وزیرانو شورا غونډه نن ددغه هېواد د پنجاب ایالت په مرکز لاهور کې د لومړي وزیر سید یوسف رضا ګیلاني په مشری کې جوړه شوه. له دې غونډې وروسته په یوې لنډې خپرې شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې غونډه کې د بن په کنفرانس کې د نه ګډون پرېکړه وشوه.
خو په خبرپاڼه کې په دې اړه نور جزئیات نه دي ورکړل شوي.
بلخوا یو شمېر کارپوهان په بن کنفرانس کې د پاکستان ګډون مهم او نه ګډون یې ددغه هېواد په زیان بولي.
د پښتونخوا ملي عوامي ګوند د خیبر پښتونخوا ایالت مشر او سیاسي کارپوه مختار یوسفزي وایي، چې په بن کنفرانس کې د پاکستان د نه ګډون له اوازو یواځېنی موخه دا ده، چې له دې سره پاکستان غواړي پر نړیوالو فشار واچوي او د مومندو پر پېښه خپل سخت غبرګون وښیي.
یوسفزی وایي، چې په بن کنفرانس کې نه ګډون په خپله د پاکستان په زیان دی؛ ځکه چې له دغه کار سره پاکستان په نړی کې یواځې پاتې کېږي.
د سیاسي چارو افغان کارپوه او په پاکستان کې پخوانی د پلومات احمد سعیدي وایي چې پاکستان غواړي په دغه ډول پرېکړو پر امریکا فشار راوړي.
سعیدي په عین وخت ټینګار کوي، چې پاکستان به هرومرو د بن په غونډه کې ګډون وکړي، خو ګډون به یې په ډېر ټیټه سطحه وي، تر څو په غونډه کې ګډونکې پرېکړې کمزورې وښیي او بله دا چې دوی نه غواړي د نړیوالو له خوا منزوي شي.

حقاني شبکې، د جګړو یو ...

یوازې په تېر اوړې کې یې لږ تر لږه ۲۰ کسان وژلي دي.
د دغې ډلې د یوه غړي د نیولو پر مهال افغان ځواکونو ته یوه ویډیو په لاس ورغلې وه چې د زیات شمېر کسانو د سر پرېکولو پېښې پکې ثبت شوي دي.
په دې ویډیو کې د لسو کسانو تنې ښودل کیږي چې سرونه یې نشته او د سرک په غاړه پراته دي، اخوا وړاندې په یوې څلور لارې کې سرونه هم تر سترګو کیږي.
نیویارک ټایمز ورځپاڼه لیکي: دا د حقاني شبکې د ظلمونو یوه نمونه ده چې په پاکستان کې فعالیت کوي او د افغانستان او پاکستان د اوږدې پولې دواړو خواو ته تنګ رانګک لرې، خو ورځې وړاندې د همدې پولې په اوږدو کې د ناټو په هوایي برید کې ۲۴ پاکستاني عسکر ووژل شول.
د دغې پېښې پوره جزئیات او څرنګوالی نه دی په ډاګه شوی، خو د متحده ایالاتو او پاکستان تر منځ اړیکې یې خراب کړي دي.
له دې پېښې ځخه دا هم ځرګندیږي چې په پاکستان کې د وسله والو امن ځایونه د وسله والو د ستونزې یوه مهمه برخه ده.
ورځپاڼه وړاندې لیکي، امریکایي ځواکونو په افغانستان کې د وسله والو پر ضد تهاجمي عملیات سخت کړي او زیاته مرګ ژوبله ور اړوي، خو حقاني شبکه د ترور او ژونو په دغه نوي تاکتیک سره داسې ښیي چې دوي لا هم غښتلې دي په دې معنی، که د بمي او ځان وژونکو حملو توان ورځخه اخیستل شوی، د خلکو د وژلو او بیرولو توان خو لري.
نیویارک ټایمز ورځپاڼه په افغانستان کې د حقاني شبکې د وژونکي ډلې د وحشت او ظلمونو یو مثال بیانوي او لیکي: کله چې په اوړي کې امریکایي ځواکونو د دې شبکې مشر مالي خان ونیوه او د هغه مرستیال قوماندان یې وواژه، نو وسله والو یې خو ورځې وروسته په هغه کلي کې چې مالي خان په کې نیول شوی و، دوه کسان امریکایانو ته د جاسوسۍ په تور ونیول او په ډېرې بې رحمي سره یې ووژل. وسله والو دا دوه تنه کلیوال د اوسپنې په میلو ووژل او وروسته یې وړباندې موټر تیر کړ.
ناټو وایي، د روان کال په لومړیو نهو میاشتو کې په افغانستان کې ترور او وژنې د ۲۰۱۰ کال په پرتله په سلو کې ۶۱ زیاتې شوې او د ۱۳۱ کسانو د وژنې راپور ورکړ شویدی.
د ملګرو ملتونو چارواکی وایی، په ۲۰۱۰ کال کې په افغانستان کې ۴۶۲ کسان وژل شوې وو او دا رقم د ۲۰۰۹ کال په مقایسه دوه برابره و.
پدې ارقامو کې د لیرې پرتو کلیو او سیمو سرپرې کوونې او وژنې ندي شاملې او دا ځکه د سیمې خلک د وسله والو له بیرې ددې ډول پیښو راپور نه ورکوي.

سنډې ټیلګراف: ناټو دکال ...

هغه له خولې کېدای شي ډېری برتانوي پوځیان له دې پروګرام سره همغږې نه وي ځکه ملګرو یې په افغانستان کې خپل ژوند له لاسه ورکړې دی خو که چیرې دا پروګرام ګټور ثابت شو او دسولې لپاره یې لار پرانیسته بیا به یې ارزښت نور هم ډېر شي.
دکورنیو چارو پخوانی وزیر حنیف اتمر له دې پروګرام سره خپل مخالفت ښودلی دی ځکه کوم شمیر طالب جنګیالي ، چې ددې پروګرام له لارې له زور زیاتې لاس اخلې شمېر یې ډېر کم دی په ځانګړې توګه په دې کې دسویلې ولایتونو طالبان ډیر کم دي او هلته دطالبانو اغیز ډیر او پیاوړی دی نو ځکه ددې پروګرام اغیز به تت وي.

از آدرس طالبان در کنفرانس ...

"در پروسه صلح افغانستان قسمیکه ما امید داشتیم و توقع داشتیم که با حمایت عملی و صادقانه بی جمهوری اسلامی پاکستان به پیش برود، نه رفته است و چیزی که ما توقع داشتیم صورت نه گرفت است. دست آورد های عملی که شرط اشتراک نماینده گان طالبان در هیات واحد افغانی بود صورت نه گرفته است و برعکس با شهادت جناب استاد برهان الدین ربانی این پروسه ضربه شدیدی دیده است، بناً در کنفرانس بن کسی به نماینده گی از رهبری طالبان حضور نخواهد داشت."
پیش از کشته شدن برهان الدین ربانی رییس پیشین شورای عالی صلح، مقام های وزارت خارجه، شرکت طالبان در کنفرانس بن را به پیشرفت ها در گفتگو های صلح با این گروه مرتبط دانسته بودند.
اما به باور شماری از کارشناسان افغان حضور طالبان در این نشست ضروری نیست. از احمد سعیدی یکی از این کارشناسان در مورد اهمیت شرکت طالبان در کنفرانس بن پرسیدیم:
"آنچه را که طالبان می خواهند شامل آجندای بن دوم نیست. اگر امریکا و جامعه جهانی این تصمیم را داشته باشند که در سیستم و نظام تغییری بی آورند، آنچه را که طالبان پشنهاد دارند یا می خواهند شامل شود. چون کسانی که جلسه را رهبری می کنند در راس دولت افغانستان شامل هیچ نوع آجندای نیستند، می گویند کسی با ماست که قانون اساسی را قبول کند و سلاح به زمین بگذارد. بناً کسی که قانون اساسی را قبول داشته باشد و سلاح به زمین بگذارد دشمن گفته نمی شود."
اما به باور برخی ها، تامین صلح درافغانستان یکی ازمسایل اصلی مورد بحث درنشست بن خواهد بود.
شماری از کارشناسان حضور نماینده گان طالبان و حکومت پاکستان را در این نشست، به عنوان کسانی که کلید صلح در افغانستان به دست آنهاست، مهم می دانند. پس از حمله ناتو بر یک پوسته نیروهای مرزی پاکستان، که سبب کشته شدن بیش از ۲۰ سرباز پاکستانی شد، برخی از رسانه های پاکستان گزارش دادند، که مقامهای آن کشور ازشرکت در کنفرانس بن منصرف شده اند.
اما با وجود پخش این گزارش ها، صدراعظم پاکستان گفته است، هنوز در مورد عدم شرکت کشورش در کنفرانس بن تصمیم نگرفته اند.
کنفرانس بن پس از حدود یک هفته به اشتراک نماینده گان نزدیک به ۱۱۰ کشور و سازمان در جرمنی بر گزار می شود.
حکومت افغانستان پیش نویس اعلامیه این کنفرانس را نیز ترتیب کرده و دیروز در نشست شورای وزیران تایید شد. تا حال مورد جزییات این پیش نویس چیزی گفته نشده است.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com